# کم کړئ، بیا استعمال کړئ، ریسایکل کړئ!

کم کړئ، بیا استعمال کړئ، ریسایکل کړئ، مونږ دا شعار زیات او زیات اورو. دا نور فقط داسې شی ندی چې "خلک یې د مود لپاره کوي،" بلکې په مونږ کې د هر تن لپاره یو ضرورت جوړ شوی دی. برسېره پر هغه زیان چې مونږ ځمکې ته په رسېدلو لیدلی دی، اوس ټولې ټولنې د کثافاتو د غورځولو د غیر مؤثر او غیر مناسب طریقه کار د اصلي مالي اغېز احساس کوي. اوس باید زمونږ هدف دا وي چې کوم ضایعات مونږ پیدا کوو د هغوی د مقدار کمول یوه عامه او عادي خبره شي. دا کتابچه یوازې د دغې په اړه ارزښتمن معلومات وړاندې کوي.

مونږ اوس دې
شعار ته یو څلورم
فکر ورزیاتوو.

کمول، بیا استعمال، ریسایکل کول، انکار کول!

د داسې تولیداتو د اخیستلو نه انکار وکړئ چې بسته بندي یې د نه ریسایکل کېدونکو موادو وي. د مصرفوونکو په صفت مونږ په خپلو ټولنو او نړۍ کې په ټول توپیر پیدا کولو کې مرسته کولی شو. مونږ په شریکه فابریکو والادې ته هڅولی شو چې په دې لړ کې اقدام وکړي او د خپلې برخې کار ښه وکړي.

تاسو په پریسایکلنګ غور کولی شئ. دا ددې اهدافو د لاس ته راوړلو یوه بله لاره ده.






## بیاچارج کول او بیاکارول!

## پریسایکل کول څه شی دي؟

پریسایکل کول یوه داسې پروسه ده په کومه کې چې د یو تولید د اخیستلو په وخت کې او یا ترې مخکې پرېکړې کولی شي تر څو د جوړېدونکو ضایعاتو مقدار کم کړی شي.

*د ریسایکل کولو افکار*

- د بیا استعمال وړ سودا خلطې بیرته مغازو ته یوسئ
- زیاته اندازه داسې شیان واخلئ چې د بسته بندۍ کم مواد کاروي او داسې شیانو نه ډډه وکړئ چې هر یو جلا جلا په پاکټ کې ورکول کېږي.
- داسې تولیدات واخلئ چې لږه بسته بندي لري یا یې نه لري
- داسې تولیدات واخلئ چې بسته بندي یې د بیا ریسایکل کولو وړ وي
- کافي لپاره د د یو ځل کارولو کاغذي فلټرونو په ځای د بیا استعمال وړ جالي فلټرونه واخلئ.
- د یو ځل استعمال بیټریانو په ځای د بیا چارج کولو وړ بیټریانې واخلئ.
- Styrofoam مه اخلئ ځکه چې دا ریسایکل کېدلی نشي.
- د غورځولو وړ شیان مه اخلئ (لکه قابونه، پیالې، اسباب، کاغذي دستمالونه، د کافي کاغذي فلټرونه، او داسې نور).

## انکار وکړئ!





## بیا استعمال کړئ!

## د ضایعاتو کمول څه شی دی

د ضایعاتو کمول د تولیدېدونکو ضایعاتو مقدار کمولو ته وایي. د ضایعاتو د کمولو یوه بېلګه د غورځولو وړ کاغذي قابونو او پلاستیکي لوښو په ځای د چیني او سیلوري لوښو کارول دي.

## د ضایعاتو د کمولو د پروګرام پیلول

د هغو ضایعاتو چې تولیدیږي د مقدار د کمولو بهترینه لاره دا ده چې د کثافاتو د بېرون
غورځولو پر مهال ورته وګورئ او د ځان نه دا پوښتنې وکړئ-

***تاسو څه شی غورځوئ؟***

***د کثافاتو په خلطه کې د ټولو نه زیات ځای څه شی نیسي؟***

***ایا کوم شیان پکې بیا کارېدلی، ترمیمېدلی، یا هدیه کېدلی شي؟***

***ایا تاسو د غورځولو اړ کارول شوو شیانو تعداد کمولی شئ؟***

***ایا تاسو تولیدات په داسې نورو بدلولی شئ چې بیا ترې استفاده کېدلی شي***

***یا په داسې چې د ریسایکل کولو وړ بسته بندي لري؟***

زده کړئ چې ستاسو د ښاروالۍ د ریسایکلنګ په پروګرام کې څه قبلېږي. په خپلو کثافاتو کې هغه شیان یاداشت کړئ چې د ریسایکل کولو وړ ندي. بیا چې کله بل ځل سودا اخیستلو ته ځئ، نو کوښښ وکړئ چې ستاسو کثافاتو کې د دغو شیانو لپاره متبادل د ریسایکل کولو وړ شیان پیدا کړئ.

که تاسو ډېر داسې تولیدات لرئ چې پکار مو نه وي، نو هغه بل چاته په ورکولو غور وکړئ، یا یې بل ځل کم واخلئ.


*د ضایعاتو د کمولو افکار*

- د کاغذ د ریسایکل کولو نه مخکې د هغې دواړه مخونه استعمال کړئ.
- دوستانو یا همکارانو، ښوونځیو، کتابتونونو، د پالنې کورونو، کلیساوو، یا نورو خیراتي سازمانونو ته یوازې د مخکې نه لوستل شوي کتابونه، مجلې، او ورځپاڼې ورکړئ.
- دوامداره، ښه جوړ شوي او/یا ترمیمېدونکي تولیدات واخلئ.
- کارول شوي کالي او د کور شیان خیراتي سازمانونو ته هدیه ورکړئ. حتی که تاسو فکر کوئ چې یو څیز ښایي ډېر داغدار یا زوړ وي، بیا یې هم هدیه کړئ ځکه احتمال لري چې ریسایکل شي.
- د بیا استعمال وړ قابونه، پیالې او اسباب وکاروئ.
- په بیټرۍ د چلېدونکو سامانونو او آلاتو په ځای پلګ کې لګېدلو والا وکاروئ.



## هدیه کړئ!

- د خطونو او کارتونو په ځای ایمیلونه او اي-کارتونه وکاروئ.
- د خپلو چارو په بې کاغذ کولو غور وکړئ او خپل بلونه او بیانونه آنلاین یا د ایمیل له لارې ترلاسه کړئ.
- تولیدات کاتالوګونو کې د لټولو په ځای آنلاین ولټوئ او د پوسټ په ځای د تلیفون له لارې یا آنلاین امر ورکولو باندې غور وکړئ.
- د خپلو اشتراکونو په ځای ورځپاڼې او مجلې آنلاین ولولئ او یا په کتابتون کې..




## د هغه پوسټ چې تاسو یې ترلاسه کوئ یا استوئ مقدار کم کړئ

- داسې معلوماتو لپاره ځان مه ثبتوئ چې ستاسو خامخا پکار نه وي.
- نوم مو د پوسټونو د لیستونو نه لیرې کړئ. د نورو معلوماتو لپاره نیغ په نیغه د انفرادي شرکتونو سره تماس ونیسئ یا لاندې ویبسایټونو ته ورشئ.

**www.optoutprescreen.com**
د څلورو غټو کریډټ دفترونو د پوسټي لیستونو څخه لیرې کېدل
**www.dmachoice.org**
خپل ځان د پوسټي لیستونو څخه لیرې کولو لپاره قدمونه تعقیب کړئ
**www.catalogchoice.org**
د کاغذي کاتالوګ د پوسټونو څخه وتلو لپاره
**www.yellowpagesoptout.com**
خپل ځان د تلیفوني کتاب د تقسیم څخه ایستلو لپاره.

## بیا استعمال څه شی دی؟

بیا استعمال د یو ځیز د ژوند اوږدولو لپاره د هغې دویم، دریم یا لسم استعمال موندل دي. بیا استعمال ستاسو لخوا د پریسایکل کولو او کمولو نه وروسته یو مهم قدم دی.

## ځوک باید بیا استعمال کړي؟

د هر عمر خلک په هر ځای کې کولی شي چې داسې شیان پیدا کړي چې بیا استعمالیږدلی شي.

## مونږ باید چیرته بیا استعمال کړو؟

شیان په کور کې، په مکتب کې او کار کې بیا استعمالیږدلی شي.

## مونږ څنګه بیا استعمالولی شو؟

د عامو شیانو د یا استعمال ډیرې طریقې کیږدلی شي. د انټرنیټ باندې یو ساده لټون به تاسو ته ګڼ شمیږ داسې ویب سایټونه ښکاره کړي چې زبردست افکار لري. د دغو نه ځینې افکار دلته په لیست کې ورکړل شوي دي.

- د الماریو د داغدار کیدو د مخنیوي لپاره د ګریسي یا بهیدونکو بوتلونو لاندې پلاستیکي پوښونه کیږدئ.
- د پخلنځي د ذخیرې د اړتیاو لپاره د مارګرین او ورته خوړو ډبې وساتئ.
- د ښیښې د یو مرتبان او د هغې د پوښ څخه د مرچ مسالو لوښی جوړ کړئ. مرتبان بس د مرچ مسالو نه ډک کړئ او په پوښ کې یې سوري وکړئ.
- د خوړو د ذخیره کولو د پخوانیو کنټینرونو د نورو استعمالونو د موندلو لپاره د خپل تصور نه کار واخلئ. شفاف کنټینرونه ددې لیدل اسانوي چې څه پکې ساتل کیږي، لکه بټنې، سکې، یا پیچونه.
- د رخت یا پلاستیک د غټو ټوټو لکه زړو روجایانو او د حمام د پردو څخه په ځمکه د اچولو ټوټې جوړې کړئ.
- هر څو که ورځپاڼې او کاغذي جانپاکونه یا د تشناب کاغذونه د ریسایکل کولو وړ دي خو د لاسي صنایعو د پروژو، د بسته بندۍ د موادو، یا د خیرنو کارونو پر مهال د شیانو د حفاظت لپاره هم استعمالیږدلی شي.
- د فالتو کاغذ لپاره د یو طرف والا کاغذ شا طرف استعمال کړئ.
- بکسونه او بیګونه څومره زیات ځل چې کیږدلی شي بیا استعمال کړئ.
- د میز او سینګار میز د خانو د تنظیمولو لپاره واړه بکسونه (بېلګه-د زیوراتو بکسونه) استعمال کړئ.
- د پکنک یا کمپینګ چکرونو لپاره پاک او خالي بوتلونه د خوندي لګیدلي سرونو سره د بیا استعمال وړ واورې بکسونه په توګه استعمال کړئ.
- اوبه د تخته کړي یخ په توګه استعمالولو لپاره په کوچنیو پلاستیکي کنټینرونو (بېلګه: د اسپرین بوتل) کې کنګل کړئ.
- د غاښونو یو زوړ برش د صفایۍ د آلې په توګه استعمال کړئ.

***وللمزید من الافكار المتعلقة بإعادة استخدام المواد، يُرجى زيارة الموقع الإلكتروني لـ (www.capitalregionrecycling.com).***



## د استعمال شوو شیانو هدیه کول



***د موادو تبادله***

اکثر خلک چې کله د استعمال شوو شیانو د هدیه کولو په اړه فکر کوي، نو هغوی فقط د استعمال شوو کالو په اړه فکر کوي. په حقیقت کې، فقط د کالو نه زیات شیان ډیرو مختلفو خیراتي سازمانونو ته هدیه ورکول کیږدلی شي. د هغو شیانو چې هدیه ورکول کیږدلی شي د ځینو بېلګو لیست لاندې ورکړل شوی دی.

- کالي- پاک او جوړ کالي څنګه چې وي هغسې بیا خرڅول کیږدلی شي. کله چې تاسو داسې شیان هدیه کوئ کوم چې ښایي ستاسو په نظر کې ډیر داغدار یا زاړه وي، نو د هغوی نه ریتاړې او د ډکولو مواد جوړیدلی شي.
- لوازمات- بوټان، کمربندونه، خلطې، بټوې، خولۍ، دستکشې، ټوکرونه، او داسې نور.
- فرنیچر- د خوراک د اطاق اسباب، صوفې، چوکۍ، کټونه، سینګار میزونه. فقط دا چې ددې شیانو وخت تیر شوی دی ددې معنی نلري چې بیا نشي کارول کیدلی.
- د کور د استعمال شیان- لوښي، د اوبو ګیلاسونه، اسباب، ماشینونه، او داسې نور.
- روغتیایي کومکي شیان- عینکې، د سماعت کومکي آلې، لکړې/امساګانې، او داسې نور.
- ساختماني مواد- الماری، دروازې، کړکیانې، د رڼا آلات، تشتونه یا ټبونه، هارډویئر، او داسې نور.

***د هغو سازمانونو چې دا شیان ښایي قبول کړي د یو لیست لپاره مهرباني وکړئ د کیپیټل ریجن ریسایکلنګ پارټنرشپ ویب سایټ ته په دې ادرس ورشئ www.capitalregionrecycling.com.***

***هدیه کړئ- دا به فقط کیپیټل ریجن سره ستاسو مرسته نه وي. دې سره تاسو ګرده نړۍ کې د نورو مرسته کولی شئ!***

ضایعات کم کړئ
شیان بیا استعمال کړئ
ځیز ریسایکل کړئ
په ټوله کې د ځیز د اخیستلو نه انکار وکړئ

**که تاسو غواړئ چې آنلاین دې کتابګوټي ته لاس رسی ولرئ، مهرباني وکړئ دې ویب پاڼې ته لاړ شئ:**

**www.albanyny.gov/languageaccess**

په ریسایکل شوي کاغذ چاپ شوی

کم کړئ

بیا استعمال کړئ

ریسایکل کړئ

انکار وکړئ!

یو داسې پروګرام چې - مونږ ټولو لپاره کار کوي!

***www.capitalregionrecycling.com***